# خبرپاڼه

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي اداري
میاشتنی خبرپاڼه

UNDP
Afghanistan

۹ زمری ۱۳۸۶
ګڼه: ۰۷/۰۲


## د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره په پنجشیر کې د ولسوالیو په کچه د ښځو د پرمختیايي شوراوو له جوړېدو سره مرسته کوي

د ښځو مسایل د سیمه ییزې پرمختیا د ملي پروګرام لپاره عمده لومړیتوب دی. دغه پروګرام د ملګرو ملتونو د پرمختیايي اداري په مرسته د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا د وزارت له خوا پلي کیږي. د سیمه ییزې پرمختیا ملي پروګرام د ښځو او نارینه وو د مساوات د خپلې تګلارې د یوې برخې په توګه غواړي چې په ټول افغانستان کې د ولسوالیو د پرمختیايي شوراوو په جوړولو کې ښځو ته د برخه اخیستنې زمینه مساعده کړي.

دغه پروګرام په ازمایشي توګه د پنجشیر په ولایت کې د ولسوالیو په کچه د ښځو پرمختیايي شوراګانې جوړې کړي دي. په دغه پروژه کې د کلیوالو ښځو شرایطو او په دغه ډول شوراګانو کې د دوی د برخه اخیستنې محدودیت ته په پام سره د مشارکتي پلان جوړونې او پریکړو له هغو لاروچارو کار اخیستل کیږي چې د ولسوالیو د نارینه وو په پرمختیايي شوراګانو کې په بریالیتوب سره کارول شوې دي.

په دغو ښځینه پرمختیايي شوراګانو کې د برخه اخیستنې لپاره ښځې د کلیو د پرمختیايي شوراګانو په مرسته چې د ملي پیوستون له لارې جوړې شوې، د سیمې د دولتي اورګانونو او ادارو او یا دځایي شوراګانو له خوا رابلل شوې وي. لومړۍ غونډې د ۲۰۰۶م په نوامبر او ډیسامبر کې د پنجشیر په ټولو اوو ولسوالیو کې ترسره شوي دي. په ځینو ولسوالیو کې د ښځو ګډون دومره ډیر وو چې د شورا د ښه تنظیم لپاره د ګروپ کوچني کېدو ته اړتیا پیدا شوه. د راټولو شوو ښځو بیا د شورا د وروستنیو غړو په هکله په یوه خوله پریکړه وکړه.

د ۲۰۰۷په سر کې، د سیمه ییزې پرمختیا د ملي پروګرام ښځینه کارکوونکو د شوراګانو ښځینه غړیو ته د مشارکتي بهیر په هکله معلومات ورکړل چې څه ډول د ټولنې سرچینې معلومې، ستونزې تحلیل او موخې وټاکي. په دغو شوراګانو کې لومړیتوب لرونکې پروژې د افغانستان شوې دي چې د اړوندو ولسوالیو په هر اړخیزو پرمختیايي پلانونو کې به پام کې ونیول شي.

د ولسوالیو پرمختیايي شوراګانې د ولسوالیو له اوسېدونکو جوړې شوې او د ځايي پرمختیا د ودې او پریکړو لپاره مشارکتي او مشورتي میکانیزمونه د ولسوالیو د پرمختیايي پلانونو په ښه وړاندې کوي. د افغانستان په سلو کې تر ۴۰ ډیرو ولسوالیو کې پرمختیايي شوراګانې جوړې شوې او د دغه ډول شوارګانو جوړول او ملاتړ د سیمه ییزې پرمختیا له ملي پرمختیايي تګلارې سره تړل شوې دي. د دغو شوراګانو په لومړیو غونډو کې به دې ټینګار کېده چې د ښځو د پرمختیايي اړتیاوو لومړیتوبونه باید په ګوته شي او هغه سرچینې هم باید معلومې شي چې دوی یې له خپلو شورګانو سره مرسته کولای شی. د ښځو د پرمختیايي شوراګانو د پریکړو پایلې د نارینه وو له پرمختیايي شوراګانو سره شریکې

د ملي پروګرام د ټولنې د ځواکمنولو په بهیر کې مرکزي ځای لري.

د دغې پروژې د یوې برخې په توګه به د پنجشیر د ولسوالیو پرمختیايي شواراګانې په راتلونکې کې د پروژو د پېژندنې او جوړونې، د پروپوزل د تیارونې، د بودجو او تجارتي پلانونو په برخه کې د ښځو د ظرفیت لوړولو ته ادامه ورکړي. د سیمه ییزې پرمختیا ملي پروګرام به د نورې -



افغان ښځې د پرمختیايي تګلارې په هکله د سلا مشورو پر مهال

### په دې ګڼه کې:


د ټولو ولایتونو لپاره د پنځه کلنو پرمختیايي پلانونو په هکله سلامشورې ترسره کیږي ۲

تنکي ځوانان د پارلماني غړو په توګه د ولسواکو خبرواترو لار خپلوي ۳

نیدرلینډ (هالنډ) د افغانستان د قانون او نظم له امانتي صندوق سره د ۱۲,۵ میلونه امریکایي ډالرو نوې مرسته کوي

له تیرو ټاکنو ځخه زده شوو درسونو ته بیاکتنه ۴

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا اداره له کوکنارو نه پاکو ولایتونو سره ۸ میلونه امریکایي ډالر مرسته کوي

د راستنو شویو او د هېواد دننه بېځایه شویو کډوالو میشته کول ۵

د شنه افغانستان نوښت چېرې چې ښځې او ماشومان خلکو ته د چاپریال ساتنې لار ښیي ۶

ناروې د ملکی خدمتونو له انستیټیوټ سره د ۲،۲ میلونه ډالرو مرسته کوي ۷

پانګې د ترلاسه کولو پر مهال له دغې تجربې څخه په نورو ولایتونو کې د ورته شوراګانو په جوړولو کې ګټه واخلي. د دغې پروژې موخه د ولسوالیو په پرمختیایي پلانونو کې د ښځو د برخه اخیستنې د ودې لپاره د یوې رښتینې او منظمې پالیسي برابرونه او په همدغو پلانونو کې د ښځو د پروژو ځایونه دي.

د ښځو او نارینه وو د مساوات پر مسله تمرکز د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاري پلان لـه پلي کولو، د افغانستان د تړونلیک له یـو سـتر هدف او د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې له اصولو سره سر خوري. د افغانسـتان پـه تړونلیک کې د همکارۍ د اصولو تـر عنوان لاندې راغلي چې افغان دولـت او نړیواله ټولنه په خپلو ټولو پالیسـیو او پروګرامونو کې دا مني چې نارینـه او ښځې یو برابر حقوق او مسؤولیتونه لري.

## د ټولو ولایتونو لپاره د پنځه کلنو پرمختیایي پلانونو په هکله سلامشورې ترسره کېږي

د سیمه ییزې پرمختیا د ملي پروګرام د یوې برخې په توګه، د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره او د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې د برابرولو په لار کې د مرستې لپاره ولایتي سلامشورې ترسره کوي. دغه بهیر د جون پر ۴مه نېټه په کاپیسا کې پیل شوی او په ټولو ولایتونو کې به د ۲۰۰۷م تر اګسټ پورې بشپړ شي.

د دغه په زړه پورې پروګرام موخه له ملي پرمختیایي تګلارې سره سم د افغانستان د هر ولایت لپاره د راتلونکو پنځو کلونو د پرمختیایي پلان جوړونه ده.

په دغه مشورتي بهیر کې د هر ولایت د ولسوالیو د شوراګانو غړي، د مهمو ملي او نړیوالو نادولتي مؤسسو استازي، او د ولایتي دولتي ریاستونو چارواکي سره راټولېږي او له ملي پرمختیایي تګلارې سره سم د سیمې پوهنیزې، امنیتي، روغتیایي، زیربنایي، د اقتصادي بیا رغونې، عدلي او داسې نورې بیړنۍ اړتیاوې او لومړیتوبونه په ګوته کوي.

په دغو سلامشورو کې له هغه مشارکتي میتود څخه کار اخیستل کېږي چې د سیمه ییز پرمختیا د پروګرام له خوا د ولسوالیو د پرمختیایي شوراګانو لپاره د ولسوالیو د پرمختیایي پلانونو په خاطر برابر او تصفیه شوی دی. دغه سیمه ییزې سلامشورې له یوه پلوه د کلیو، ولسوالیو او ولایتونو اړتیاوې له ملي پرمختیایي تګلارې سره همغاړې کوي او له بل پلوه دا خبره هم باوري کوي چې نوموړې ستراتیژۍ د ولایتونو له حقایقو سره برابره وي.

هیله ده چې دغه سیمه ییزې سلامشورې به په ملي او ولایتي کچه د وزارتونو د فعالیتونو همغږۍ، لا ښه اداري روڼتیا، لا ښه ولایتي پرمختیایي پلانونه، او د ولایتي اړتیاوو د اوارولو لپاره نوي بودجوي میکانیزمونه وهڅوي.

نړیوال مرستندویان، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري په ګډون د ملګرو ملتونو د ادارو استازي او د ولایتي بیارغونې د ډلو استازي د سلامشورو د بهیر د پیلولو او خپل ملاتړ د څرګندولو لپاره رابلل شوي چې وروسته به دوی موقع ولري چې د مشورو پایلې وګوري او په ګوته شوو پروژو کې د پانګه اچونې له لارې خپل ملاتړ څرګند کړي.

د ولایتي مشورو او پرمختیایي پـلان جوړونې د بهیر یوه عمده پایله بـه د ټولو ۳۴ ولایتونـو د پـرمختـیـایي پلانونو بشپړېدنه وي چې د مـلـي پرمختیایي تګـلارې د اداري او د اقتصاد وزارت له خوا باید تصـویـب او د مالیې وزارت له خوا ومنل شي.

## په افغانستان کې د ولسواک حکومت ریښې ټینګول

نن ورځ تر هر بل وخته ډېر هېوادونه د ولسواکو حکومتونو پر جوړولو کار کوي او افغانستان هم له دغو هېوادونو څخه مستثنا نه دی. اصلي ننګونه دا ده چې څنګه باید داسې اداري او بهیرونه رامنځته شي چې د بېوزلو په ګډون د عامو ولسي خلکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

ولسواک حکومت د زرېزې د پرمختیایي موخو د لاسته راوړنې په لار کې مرکزي ځای لري، ځکه چې د دغو موخو د تحقق او په ځانګړې توګه د بېوزلۍ د له منځه وړلو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کوي. د افغانستان دولت د ۲۰۰۴م کال په مارچ کې د زرېزې پرمختیایي موخې تصویب کړې دي. د دې برسېره چې افغان دولت د زرېزې اتو پرمختیایي موخو ته ځان ژمن کړی، ځان ته یې د امنیتي وضعیت د ښه کولو یوه غټه موخه هم ټاکلې ده. دغو موخو ته د رسېدو لپاره دولت د ۲۰۲۰م کال د ټک په توګه ټاکلی او د هرې موخې لپاره د ۲۰۰۲– ۲۰۰۵بنسټلیکې کاروي.

افغانستان د ۲۰۰۱ په ډیسامبر کې د منځمهاله دولت له رامنځته کېدو راهیسې اوږده لار وهلې ده. د افغانستان مؤقته ملي پرمختیایي تګلاره او د افغانستان تړونلیک چې په لندن کې لاسلیک شوی د افغان دولت د پرمختیایي لرلید بنسټ جوړوي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره اوس د افغانستان له دولت سره ګډ کار کوي چې د افغانستان په مؤقته ملي پرمختیایي تګلاره او د افغانستان په تړونلیک کې د حکومت چلونې د تعریف شویو تګلارو له اغیزمنې پلیکېدا سره د مرستې لپاره ملي کاري ظرفیت او سیستمونو ته پراختیا ورکړي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري همدارنګه د افغانستان د اساسي قانون له جوړېدو سره مرسته کړې او د هېواد د انتخاباتي او تقنیني سیستمونو په ځای پر ځای کېدو کې یې ستر نقش لوبولی دی.

په افغانستان کې د بیارغونې او پرمختیا چارې پیاوړې، مشروع او اغیزمنې عامه مرکزي او سیمه ییزې اداري او اغیزمنو او مشروع ادراي جوړښتونو ته اړتیا لري.

د ډیموکراتیک اوښتون په ملي بهیر کې د ملګرو ملتونو پرمختـیـایـي اداره د پالیسي په هکله د مشورو او تخنیکي مرستې؛ د ادارو او افرادو د کاري ظرفیت د لوړولو؛ د تبلیغ، افهام او تفهیم او ولسي پوهاوي؛ د خبرواترو او منځګړیتوب د ودې او د شبکو رامنځته کولو او د ښـو کاري دودونو د شریکولو په برخه کې عمده خدمتونه ترسره کوي.

## تنکي ځوانان د پارلماني غړو په توګه د ولسواکو خبرواترو لار خپلوي

تر ۱۰۰ ډيرو ځوانو افغانانو د افغانستان د ځوانانو په هغه لومړي پارلمان کې برخه واخيسته چې د ۱۳۸۶م کال د غبرګولي له ۲۰ تر ۲۴مې نېټې پورې په کابل کې جوړ شوى و. د دولسمو ټولګيو ۴۹ هلكان او ۵۲ نجونې د کابل د شا او خوا ۸۰ ليسو له خوا ټاکل شوي وو چې د ځوانانو په پارلمان کې د دوي استازيتوب وکړي. دغه ټاکنې د ټاکنو خپلواك کمېسيون ترسره کړي وي.

د ځوانانو پارلمان د مشرانو جرګې په ځايناستي کې د دوى د رخصتي په مهال جوړ شوى و. دغه نوښت د ملي شورا، د ټاکنو د خپلواك کمېسيون، د ځوانانو د چارو د معينيت او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له خوا په ګډه پلي شو.

دغو ځوانانو چې له ۱۶– ۲۰ کلونو پورې يې عمر درلود خپل کار د غونډې د مشرانو پر ټاکلو پيل کړ، وروسته بيا دوى پر شپږو کمېسيونونو وويشل شول او هر کمېسيون ته د پرمختيا د چارو د يو اړخ د تحليل او د حل لپاره د داسې ګامونو او تګلارو په ګوته کولو دنده ورکړاى شوه چې دولت يې تطبيق کړاى شي. په پاتې څو ورځو کې زده کوونکو زده کړل چې څنګه پر مسايلو وغږيږي، څنګه يو بل ته غوږ کيږدي او د خپلو مسايلو د حل لپاره څنګه په يوه خوله د يوې ډلې په توګه خبرې اترې او ګډ کار وکړي.

دغو پارلماني ځوانانو د خپل عمر لومړي ۱۰– ۱۵ کلونه په کړکيچنو او ځورونکو شرايطو کې تير کړي دي او ځينې يې کور او هېواد پرېښودو ته اړشوي وو. د دغو ځوانانو اندېښنې د ځوانانو له ستونزو تيرې شوې وي او تر هغو مسايلو پورې رسېدې چې په ملي سطحه ولسي خلك ورسره مخ دي. زده کوونکو د ستونزو او د ستونزو د لاملونو ډير تازه تحليل وړاندې کړ.

د دغه پروګرام برخه والو د خپل هېواد له بيارغونې سره بې کچې ليوالتيا ښکاره کړه او دوى ټينګ باور درلود چې ځوانان په عمومي توګه د افغانستان په بياجوړونه کې بايد مرکزي نقش ولوبوي. د ځوانانو پارلمان د لومړي ځل لپاره د بېلابېل توکم او ټولنيزې تاريخچې درلودونکي زده کوونکي سره راټول کړل او په دوى کې يې د ګډ کار، بحث او تحمل د نوي کلتور د غښتلي کولو هڅه وکړه.

د ځوانانو پارلمان وښودله چې د مسؤليت دغه ډول احساس کېداى شي په ډير کم وخت کې د کلکو پايلو د ترلاسه کولو په خاطر پر عملي اقدام بدل شي او د ځوانانو له احساساتو او نااميديو نه په متابادله لار سمه ګټه پورته شي.

په داسې يو هېواد کې چې د ځوانانو تر منځ دغه ډول خبرې اترې نه ترسره کيږي، د ځوانانو پارلمان وښودله چې يو هخوونکي اقدام څنګه د ننيو افغان ځوانانو او د سبا د مشرانو کاري ظرفيت لوړولى شي.

هغه اداري چې نوموړى پروګرام يې په ګډه پلي کړ غواړي چې پروګرام ته نوره پراختيا هم ورکړي، نه يوازې په ټول هېواد کې د ځوانانو د ګډون له لارې د پروګرام جغرافيايي پراختيا بلکې د ځوانانو د پارلمان او په مجموع کې د ځوانانو د فعاليتونو لمن خپرول هم په پام کې لري.

## نيدرلينډ (هالنډ) د افغانستان د قانون او نظم له امانتي صندوق سره د ۱۲,۵ ميلونه امريکايي ډالرو نوې مرسته کوي

د نيدرلينډ دولت له افغان دولت سره د قانون او نظم د امانتي صندوق له لارې چې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له خوا اداره کيږي د ۱۲،۵ ميلونه امريکايي ډالرو نوره مرسته کوي. د دغې مرستې په هکله په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د مشرې آغلې انتيا نيرودي او د نيدرلينډ د سفارت د سرپرستې شارژدافيرې آغلې ايوان ستاسين له خوا تړون لاسليك شوى دى. د تړون د سپارلو مراسم د کورنيو چارو په وزارت کې د دغه وزارت د لومړي معين ښاغلي عبدالحادي خالد په شتون کې ترسره شول.

د ملي امنيت او بيارغونې لپاره د ملي پوليسو د ځواك بيارغونه د افغان د ولت لپاره ستر لومړيتوب دى. د افغانستان په ملي پرمختيايي تګلاره کې د مسلکي، منظمو او غښتليو پوليسو وړاندوينه شوې؛ داسې پوليس چې په عامه توګه ترسترګو شي او په ولسي خلکو کې د ارامي احساس رامنځته کړي.

د افغان دولت او د ملګرو ملتونو د مرستندويه دفتر (يوناما) په غوښتنه د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري د پوليسو اړوند لګښتونو د پوره کولو لپاره د ۲۰۰۲م د مې په مياشت کې د افغانستان لپاره د قانون او نظم امانتي صندوق جوړ کړ. اروپايي کمېسيون، متحده ايالات، کاناډا، نيدرلينډ، جرمني، برتانيه، سويټزرلينډ، فنلنډ، استرليا او جاپان د قانون او نظم له امانتي صندوق سره غټ مرسته کوونکي دي. د نيدرلينډ هېواد له څلورو کلونو راهيسې د قانون او نظم له امانتي صندوق سره مرسته کوي چې په دغه موده کې يې د ۸،۳۰ ميلونه امريکايي ډالرو مرسته کړې ده.

د قانون او نظم امانتي صندوق ماليې وزارت ته د ۳۴ واړو ولايتونو د پوليسو د معاشاتو پيسې رسولې دي. د لازياتو معلوماتو لپاره www.undp.org.af

# له تیرو ټاکنو څخه زده شوو درسونو ته بیاکتنه

د ملي شورا یو شمیر غړي او د پرمختيايي چارو مؤسسې د ۱۳۸۶م د سلواغې له ۶مې تر ۸مې نېټې پورې په کابل کې په یو سیمنار کې سره راټول شوي وو چې په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ مو کلونو کې د ولسمشرۍ او ملي شورا په ترسره شوو ټاکنو کې د رایه ورکوونکو د نوملیکنې سیسټمونه او نور اړخونه تر کتنې لاندې ونیسي او د راتلونکي لپاره درسونه ترې راواخلي.

تر اته میلونه ډیرو رایه ورکوونکو، چې ۴۲ فیصده یې ښځې وې، د ۲۰۰۴ د اکتوبر پر ۹ نېټه د ولسشمرۍ په ټاکنو کې او بیا وروسته ۶،۴ میلونه رایه ورکوونکو، چې شاوخوا ۴۱ فیصده یې ښځې وې، د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې رایه ورکړه.

دغه ټاکنې په غټ قیمت ترسره شوې او د پلي کېدو پر مهال د اړینو توکو د پیرودنې او امنیت له غټو ننګونو سره مخ وې. دا چې د ټاکنو خپلواك کمېسیون د ۲۰۰۹م کال د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره تیاری نیسي نو له تیرو تجروبو نه د زده شوو درسونو په ګوته کول ضروري وو تر څو راتلونکې ټاکنې په اقتصادي توګه ترسره شي او د ټاکنو لپاره د تیاري نیولو په چارو او په مجموع کې د ټاکنو په بهیر کې ښه والی راوستل شي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري ریسې آنیتا نیرودي غونډې ته په خپلو څرګندولو کې وویل چې: دا سیمنار د وړاندې کتو یو تمرین دی او موخه یې د راتلونکو ټاکنو د تیاري لپاره د کار د ښو دودونو او مهمو درسونو په ګوته کول و. د مهمو مسایلو په هکله د خبرو اترو لپاره د سلامشورو لار خپلول ضروروي ده تر څو له دې لارې اړوندې خواوې د ننګونو د حقایقو او د هغو عناصرو په هکله جوړ جاړي ته ورسیږي چې مونږ یې باید د راتلونکو ټاکنو لپاره د ټاکنو د خپلواك کمېسیون په پلان کې ځای کړو.

دغه سیمنار د تقنیني او انتخاباتي ظرفیت د لوړولو د پروژې په نوښت د ټاکنو اړوند مسایلو په هکله بحث کې د د دولت، مدني ټولنې او نړیوالو برخه والو خواو راټولول و. د دغې پروژې موخه د ټاکنو په بهیر کې د ملی واك پیاوړتیا او د د دغه بهیر د اوږدمهاله ثبات او پایښت لپاره د میکانیزمونو او اداري ظرفیت ځایونه ده.

رالونکو ټاکنو ته تر دوو کلونو کم وخت پاتې دی. همکاري به په راتلوکو میاشتو کې د ټاکنو د ملاتړ مرکزي ټکی وی. په ځانګړې توګه د دولتي ادارو (د ټاکنو خپلواك کمېسیون، کورنیو چارو وزارت او داسې نورو)، د مدني ټولنې ډلو او نړیوالې ټولنې تر منځ باید د اوسني خوځښت د پایښت او لومړیتوبونو ته د پام ورګرځولو لپاره همکاري لا ډیره منظمه او پیاوړې شي.



د ټاکنو کارکوونکي

د ټاکنو د خپلواك کمېسیون ریس په ځپلو خبرو کې د ټاکنو د خپلواك کمېسیون او نړیوالو مؤسساتو د کار د ستاینې تر څنګ یادونه وکړه چې د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو په راتلونکو ټاکنو کې به د ټاکنو خپلواك کمېسیون هڅه وکړي چې له تیرو درسونو څخه د رڼو، ازادو او منصفانه ټاکنو د باوري کولو لپاره کار واخلي. ښاغلي ریس زیاته کړه چې ټاکنې د ټاکنو د خپلواك کمېسیون او د اړوندو وزارتونو، خبري رسنیو او سیاسي ګوندونو په ګډون د نورو برخه والو خواوو ګډه مسؤولیت دی.

په دغه سیمنار کې د سیاسي ګوندونو استازو، د ملي شوار غړو، د مدني ټولنې سازمانونو او د سیاسي نمایندګیو په استازیتوب

## د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا اداره له کوکنارو نه پاکو ولایتونو سره ۸ میلونه امریکایي ډالر مرسته کوي

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا اداره له نشه يي توکو سره د مبارزې د امانتي صندوق له لارې د ښې کارکړنې (کارکردګي) له پروګرام سره د اتو میلونو ډالرو لومړنی مرسته کوي. دغه نوې مرسته به د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له خوا اداره شي. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت به نوموړی پروګرام تنظیم او سمبالوي. د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیا د اداري د دغې مرستې موخه د کوکنارو د له منځه وړلو په لوري پرمختګ جاري ساتنه او له لومړیتوب لرونکو پرمختيايي پروژو سره د مالي مرستې له لارې له کوکنارو څخه د پاکو ولایتونو پاك پاتېکېدنه ده.

## د راستنو شویو او د هېواد دننه بېځایه شویو کډوالو میشته کول

# د استرلیا له خوا د الیسغان له پروژې سره ۷,۳ میلونه امریکایي ډالر مرسته کېږي

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري د کډوالو د نړیوالې ورځې د لمانځنې په مناسبت د غبرګولې پر ۳۱مه نېټه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې په رسمي توګه د الیسغان پروژه پرانیستله، چې موخه یې له راستنوشوو کډوالو او بېځایه شوو کورنیو سره مرسته ده.

د الیسغان په پروژه کې به د استرلیا د دولت د ۷،۳ میلونه امریکایي ډالرو په مرسته د راستنوشوو کډوالو او د هېواد دننه بېځایه شوو خلکو ۱۴۰۰ کورنیو لپاره کورونه او د معیشت زمینه برابره شي.

د الیسغان نوم د الیس سپرینګ او افغانستان له نومونو را اخیستل شوی دی. الیس سپرینګ د استرلیا هغه ښارګوټی دی چې په استرلیا کې د میشته افغاني کډوالو سره کلکه اړیکه لري. دا نوم د دغو دوو هېوادونو تر منځ مشارکت او تعهد په ګوته کوي.

په افغانستان کې د استرلیا سفیر ښاغلي بریټ هاکیټ وویل:" د استرلیا دولت وياړي چې له افغان دولت او ملګرو ملتونو سره د افغان کډوالو او بې ځایه شوو کورنیو خپل کور ته ستنېدو کې مرسته کوي. د الیسغان پروژه زموږ د ګډ کار زیرنده ده او د افغانستان د راستنېدونکو ګڼ شمیر کډوالو لپاره به د اوسېدو او په ټولنه کې د میشته کېدو لار اواره کړي او په راتلونکي کې به د افغانستان په نورو برخو کې د ورته پروژو لپاره د یوې نمونې په توګه وکارول شي."

دا ښارګوټی د کابل د قره باغ ولسوالۍ په باریکاب کې جوړېږي چې ۱۴۰۰ د زلزلې په وړاندې مقاوم کورونه او اساسي زیربنا به ولري او د دې ترڅنګ به د ښار ګوټي له اوسېدونکو سره د معیشت په برخه کې هم مرسته وشي. دغه ځمکه یوه له هغو ځمکو څخه ده چې د افغانستان د دولت له خوا د هېواد په بېلابېلو برخو کې د راستنېدونکو کډوالو او بېځایه شوو کورنیو د ځای پر ځای کولو لپاره بېلې شوې دي. د ګټه اخیستونکو برخه اخیستنه، د یو باثباته ټولنې رامنځته کېدنه او د راستېدونکو کډوالو او بېځایه شوو وګړو لپاره په راتلونکي کې د ورته پروژو لپاره د یوې نمونې جوړېدنه د پروژې د پلي کېدو اساسات دي.

د الیسغان پروژه نېغ په نېغه د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري له خوا د کډوالو د چارو وزارت، د ښاري پرمختیا د وزارت او د کابل د ولایت له مقام سره په ګډه پلي کېږي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو کمیشنرۍ او د ملګروملتونو د هابیتات موسسه هم د پروژې د طرحې او تطبیق په بېلابېلو پړاوونو کې مرسته او لارښوونه کوي.

د الیسغان د پروژې کورونه د ختیځ له رخښتو جوړېږي چې په جوړېدو کې یې کارګرو ته ډیر کار پیدا کېږي او له دې لارې تر ټولو زیات شمېر ګټه اخیستونکو ته اعظمي ګټه رسیږي. د یوې ځانګړې کمیټې له خوا به مستحقین غوره شي چې کونډو، معلولینو، له زیان سره مخ او ډېرو بې وزلو کورنیو ته به په کې لومړیتوب ورکړای شي. دوی ته به د خپلو کورنو د جوړولو لپاره ساختماني مواد ورکړل شي او پروژه به دوی ته د کار او مهارتونو د ښوونې تر څنګ د دوی کار هم وځاري. ژوري څاوې، نبلولونکي سړکونه، ولسي مرکزونه، کلینیک او ښوونځی د پلان برخه ده چې د ښاري پرمختیا د وزارت له خوا ډیزان شوي دي.



**د کابل والي حاجي دین محمد غونډې ته وینا کوي**

## د شنه افغانستان نوښت

# چېرې چې ښځې او ماشومان خلکو ته د چاپېریال ساتنې لار ښيي

د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې د ۲۰۰۶م په مارچ کې د چاپېریال ساتنې لپاره د خلکو د هڅولو او د اړوندو ادارو د کاري ظرفیت د لوړولو لپاره په افغانستان کې د چاپېریال له مسایلو څخه د خبرتیا د کچې د لوړولو یوه پروژه پیل کړه. دغه پروژه له شخړې وروسته د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې د ادارې له خوا د چاپېریال د ارزونې د پایلو پر بنسټ تیاره شوې چې افغانستان یې د چاپېریال له بېساري کړکیچ سره مخ ښودلی و. نوموړې پروژه د شنه افغانستان په نوښت کې، چې د افغانستان د چاپېریال د تخریب د مخنیوي لپاره د ملګرو ملتونو د بېلابېلو ادارو له خوا په ګډه پرمخ وړل کېږي، د ملګرملتونو د پرمختیایي ادارې ونډه ده.

د طبعي سرچینو له کارولو سره د کلیوالو ښځو او ماشومانو د اړیکې اهمیت ته په پام سره، په پروژه کې هڅه شوې چې د چاپېریال ساتنې په هڅو کې د ټولنې د پراخه ونډې اخیستنې لپاره له دغو له پامه غورځول شوو ډلو څخه د اتکا د ټکي په توګه کار واخیستل شي. ښځو او ماشومانو ته رسېدل او له هغو سره ګډ کار ډېر سخت دی. په افغانستان کې کلتوري حساسیتونه ښځې او نجونې له سړو سره ګډ کار او په عامه پروګرامونو کې ازادې برخه اخیستنې ته نه پرېږدي.

په دغه پروژه کې ډېرو خنډونو ته په پام سره هڅه شوې چې پر عمومي پروګرام د خلکو د باور د ترلاسه کولو لپاره له نوښتګرو لارو چارو څخه کار واخیستل شي. د اعتماد د فضا د را منځته کولو لپاره له ولسي ډلو، ځایي مشرانو او مذهبي علماوو سره یو شمېر غونډې جوړې شوې دي. د کلیو په کچه د عمومي تحلیل او د چاپېریال ساتنې د پلان جوړونې د پیاوړتیا لپاره د ټولنې د لرلید معلومولو مشارکتي لار کارول شوې ده. د دغې پروژې د کار بېجوړې طرز په بریالیتوب سره ښځې او نجونې د نارینه وو تر څنګ کینولې چې په ګډه په خپل کلي کې د چاپېریال د ساتنې لپاره په لارو چارو غور وکړي.

په پروژه کې ماشومانو ته ځکه ځانګړې پاملرنه شوې چې د چاپېریال له مسایلو څخه د ماشومانو خبرول داسې یو نوی نسل روزي چې د چاپېریال ساتنې له مسایلو سره به ځانګړې لېوالتیا ولري. ماشومان همدارنګه د هېواد د وګړو غټه برخه جوړوي. د دې برسېره دا ښوونې ده چې دوی په مستقیمه یا غیري مترقبه توګه د چاپېریال په هکله د خپلو نویو مهارتونو، پوهې او سلوک نه د خپلو کورنیو غړي متاثره کړي.

نوموړې پروژې د پوهنې د ولایتي ریاستونو او د ښوونځیو د مدیرانو په مرسته په ښوونځیو کې د ماشومانو پر مشرې د چاپېریال له مسایلو څخه د خلکو د خبرولو کمپاین پلې کړی دی. په دغه نوښت کې د زرغونتیا د ډلو جوړول، د چاپېریال په هکله د مقالو، شعرونو، مباحثو، رسمونو او داسې نورو سیالیو ترسره کول او د چاپېریال کوچنۍ پروژې شامل وو.

دغې پروژې د چاپېریال ساتنې لپاره د یو پایښتونکي چوکاټ د رامنځته کولو په خاطر د کلیو د چاپېریال ساتنې د کمېټیو جوړولو سره مرسته کړې چې د کلیو وړاندې جوړو شوو پرمختیایي کمېټیو فرعي کمېټې دي. د کلیو د چاپېریال ساتنې کمېټې د ولایتي پرمختیایي پلان جوړونې په بهیر کې د چاپېریال اړوند خپلو لومړیتوبونو د ځایولو او د چاپېریال ساتنې د ګډ اقدام لپاره د خلکو په هڅولو کې نقش لوبوي. پروژه به کمېټې د خپل کار د ترسره کولو لپاره په سمه توګه وروزي. پروژه به همدارنګه اړوند دولتي کارکوونکي، نادولتي مؤسسې او د ښوونځیو ښوونکي وروزي چې د پروژې له پای ته رسېدو وروسته دغه پروګرام پرمخ بوزي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې او د شنه افغانستان نوښت وښودله چې ښځې، د مناسبو اسانتیاوو د برابرېدو له لارې، د ټولنیزو خېرښېګنو په کارونو کې فعاله ونډه اخیستی شي. د شنه افغانستان د نوښت په مرسته ۴۰۰ کلیوالو ښځو د بوزغلیو پټي جوړ کړي چې شا او خوا ۸۰۰۰۰۰ بوټي یې په کې غټېدو ته اېښي دي.



د ښوونځي ماشومانو په لاسونو کې د چاپېریال د سمسورتیا تبلیغاتي انځورونه نیولي دي

په بل مخ کې ادامه لري

دغه پروژه به، له خپلو همکارانو سره په ګډه، نوموړو ښځو ته ځانګړې روزنه ورکړي چې په خپل کاروبار کې بریالۍ شي او نورو ته د ښوونکو او هڅوونکو په توګه مثال وګرځي. د کلیو د چاپریال ساتنې کمیټې به چې په ۴۰ کلیو کې د پروژې له خوا جوړې شوې له بوزغلي کرونکو ښځو سره مرسته وکړي چې شا او خوا نور خلک هم وهڅوي چې په ګډ شمیر کې نیالګي کېږدي.

پروژې تر اوسه پورې نږدې ۱۰۰۰۰۰ کسانو سره ګډ کار کړی او په ۴۰ ښوونځیو کې یې د زرغونتیا ډلې جوړې کړي دي. ماشومانو د چاپریال ساتنې په هکله ډیر څه زده کړي او تر روزنې راهیسې یې د خپلې ټولنې د نورو غړو په هڅونه کې فعاله نقش لوبولی دی. د بېلګې په توګه د چاپریال ساتنې د نړیوالې ورځې (۱۶ غبرګولې ۱۳۸۶) په مناسبت په مزارشریف کې جوړ شویو مراسمو کې ماشومانو د پروګرام ټولې برخې وړاندې کړې او خلکو ته یې د چاپریال ساتنې په هکله شعرونه، سندرې او ډرامې وړاندې کړې. د ډیرو والدینو غبرګون ښیي چې د دوی ماشومان د ښوونځي د چاپریال ساتنې له پروګرام سره له یو ځای کېدو راهیسې د کورنۍ په کچه د چاپریال ساتنې د یو لړ معیارونو د پلي کولو تبلیغ کوي؛ لکه په سمه توګه د کثافاتو (فضله موادو) ځای پر ځای کول، د اوبو سم استعمال، د انګړ شنه کول او داسې نور. په تیر پسرلي کې د ښوونځي هغو ماشومان چې د زرغونتیا د ډلو غړي وو په خپلو ښوونځیو او کورونو کې شا او خوا ۳۸۰۰۰ نیالګي ایښي دي.

د نیالګیو کېښودلو په تیر موسم کې پروژې ته جوته شوه چې د تیرو کلونو په پرتله د نیالګیو غوښتنه ډیره شوې وه او ورسره قیمتونه پورته شوي وو او د نیالګیو کمی وو. د چاپریال ساتنې په وړاندې د خلکو د سلوک بنه کېدو ته په پام سره کېدای شي په راتلونکو کلونو کې د نیالګیو کمی د ټولنې له خوا د نیالګو د کېښودو په وړاندې ځنډ خنډ وي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره او د شنه



افغانستان نوښت به د چاپریال ساتنې د کوچنیو پروژو په مټ د کوچنیو فارمونو او یا په ښوونځیو کې د بوزغلي د کرلو له لارې د نیالګیو د سرچینو تنوع ډیره کړي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره او د شنه افغانستان نوښت تمه لري چې د دوی د کار څرنګوالي او پایالې به لا ډیرې بریاوې ولري او دوی ژمن دي چې د چاپریال ساتنې په هکله به د ښځو او ماشومانو مهارتونو، پوهې او زده کړې ته لاډیره وده ورکوي او په افغانستان کې به یې د چاپریال ساتنې اتلان وګرځوي.

لیکوال: ډینیس موتبازي

## ناروې د ملکي خدمتونو له انستیتیوټ سره د ۲،۲ میلونه ډالرو مرسته کوي

د ناروې شاهي دولت د افغانستان د ملکي خدمتونو د انستیتیوټ د سمبالولو او عملیاتي لګښتونو لپاره د ۲،۲ میلونه امریکایي ډالرو مرسته کړې ده. تمه کیږي چې دغه انستیتیوټ به د افغانستان د ملکي خدمتونو د کاري ظرفیت د لوړولو په لار کې مرکزي نقش ولوبوي.

د ناروې مرسته به د انستیتیوټ له جوړښت او عملیاتو سره د اړینې تخنیکي مرستې په لار کې ډیره مهمه ثابته شي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره به د ملکي خدمتونو له انستیتیوټ سره د پوهې د انتقال او د تجربو د تبادلې لپاره د انستیتیوټ له افغان کارکوونکو سره د نړیوالو کارپوهانو د یو ځای کولو له لارې مرسته وکړي. دا کار به له یوه اړخه د ملکي خدمتونو له انستیتیوټ سره مرسته وکړي چې د روزنیزو پروګرامونو مسؤولیت په غاړه واخلي او له بل اړخه به د انستیتیوټ له پایښت او خپلواکۍ سره مرسته وکړي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره به په ځانګړې توګه د بشري ځواک د کاري ظرفیت د ودې، پالیسۍ او ارزونې په لارې کې تخنیکي مرسته وکړي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره به د زده کړې او روزنې د موادو لپاره د ډیزاین او تولید د یوې ځانګړې د جوړولو په برخه کې مرسته وکړي. د روزنې او مدیریت ګروپ به همدارنګه له مرکزي او ولایتي ادارو سره د اړیکو ټینګولو باوري کړي. د انستیتیوټ یوه مرکزي اسانتیا به د انستیتیوټ کتابتون وي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره به له د انستیتیوټ سره مرسته وکړي چې د عامه اداري او حکومتي چارو په برخه کې یو کتابتون جوړ کړي چې په دې کې به د شا او خوا ۳۰۰۰ کتابونو، مجلو او ورځپاڼو پیروډنه؛ د کتابتونو د کارکوونکو د یوې وړې ډلې له خوا ،چې د یو نړیوال سلاکار له خوا به ورسره مرسته کیږي، د کتابتون اداره کول شامل وي.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره د ملګرو ملتونو هغه نړیواله پرمختیايي شبکه ده چې د بدلون په لار کې نه سترې کېدونکې هڅې کوي او د ولسونو د ښې راتلونکې لپاره هېوادونه له پوهې، تجربو او سرچینو سره تړي.

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې کار ته یوه عمومي کتنه

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره له ۱۹۵۶م کال راهیسې په افغانستان کې شتون لري، چې د پرمختیايي مرستې تر څنګ د ملي بسټونو د ظرفیت په لوړولو کې ورسره مرسته کوي. د طالبانو په رژیم کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې اسلام اباد ته د بېځایه شوو دفترونو له لارې په ټول افغانستان کې له افغانانو سره مرستې ته ادامه ورکړه. په دغه لسېزه کې، د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په افغانستان کې ۲۰۰ میلونه امریکايي ډالر مرسته ولګوله. د ۲۰۰۲م کال په سر کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې په کابل کې خپل نوی دفتر پرانیست.

د افغانستان په وړاندې ستري بشري پرمختیاي ننګونې پرتې دي. د افغانستان د بشري پرمختیا د ۲۰۰۴م کال د رپوټ له مخې، افغانستان د بشري پرمختیا په لړلیک کې د نړۍ په ۱۷۸ هېوادونو کې ۱۷۳م هېواد دی او د زریزې د پرمختیايي موخو شاخصونه یې د افریقا د صحرا تر ډېرو هېوادونو ښکته ځای کې ښيي. په افغانستان کې د بې وزلۍ ژورتیا د بشري پرمختیا په ټولو شاخصونو کې په ثابته توګه جوته ده او د داسې یو هېواد په توګه یې په ګوته کوي چې دوامداره مرستې ته اړتیا لري. له همدې امله، بې له ایرانتیا، د زریزې د پرمختیايي هدفونو د لاسته راوړنې لپاره افغانستان د نړیوال لومړیتوب په توګه پېژندل شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت او د ملګرو ملتونو د پرمختیايي مرستې په چوکاټ کې کار کوي. د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې د ۲۰۰۵م کال په ډیسمبر کې له افغان دولت سره درې کلن کاري پلان لاسلیک کړی چې پر درې پرمختیايي ساحو تمرکز کوي: دولت جوړونه، ولسواکي او د مدني ټولنې ځواکمنول او پایښتونکی معیشت. د ملګرو ملتونو د پرمختیايي ادارې پروګرام کې د ظرفیت لوړولو، ملي مالکیت او د تګلارو په هکله بحث ته پام اړول شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره تر هغې کېچې د دولت د بنیادي کاري ظرفیت لوړول غواړي چې عامه خدمتونه په مساویانه او پایښتونکې توګه وړاندې کړای شي او د مشروع معیشت لپاره یو مناسب چاپېریال رامنځته کړي.

په پام کې نیول شوې پایلې د افغانستان د مؤقتي ملي پرمختیايي تګلارې له موخو او شاخصونو سره سم تعقیبیږي. د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره له دولت سره، په ځانګړې توګه د لاندې ډګرونو، د یو لړ پرمختیايي موخو په لاسته راوړنه کې مرسته کوي: امنیت او د قانون واکمنی، اداري سمون، روڼتیا او حساب ورکول، محلي اداره، سیاسي بهیر (ټاکنې او پارلمان)، د مدني ټولنې ځواکمنول، د ښځو او نارینه وو برابری، بشري حقوق، چاپېریال او کلیواله انرژي، په ټولنه کې د پخوانیو وسله والو میشته کول، د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د ملي تګلارې پلي کول او همدارنګه د کلیوالې پرمختیا پلان جوړول او د خصوصي سیکټور پرمختیا.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره ټول کارونه له افغان دولت، د ملګرو ملتونو له نورو ادارو او په پرمختیايي چارو کې ښکیلو مؤسسو سره په نږدې همکارۍ کې ترسره کوي.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې له یو شمېر دولتي ادارو لکه د مالیې وزارت، د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ملکي خدمتونو کمېسیون، د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمېسیون او د ښځو د چارو له وزارت سره په ستراتیژیکه توګه ګډ کار کوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې ته تر ټولو لس ستر مرسته ورکوونکي، د امریکا متحده ایالات، اروپايي کمېسیون، جاپان، کاناډا، بریتانیا، هالنډ، ایټالیا، جرمني، ناروې او نړیوال بانک دي. له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۶ پورې د ملګرو ملتونو پرمختیايي ادارې تر ۱،۳ ملیارده ډېر امریکايي ډالر په پرمختیايي مرستو کې لګولي دي.

د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره د افغان او نړیوالو پرمختیايي شریکانو د ملاتړ او باور مننه کوي.


**د ملګرو ملتونو پرمختیايي اداره، شاه محمود غازي واټ، کابل، افغانستان**

د ټیلیفون شمېره: ۴۰۰۰ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+ یا ۴۰۷۶ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+

**د دې موضوعاتو په هکله د لازیاتو معلوماتو د غوښتنې او یا د مرستې کولو لپاره:**

کومار ټیکو، د اړیکو د څانګې مشر ( kumar.tiku@undp.org )

فضه حیسني، د عامه اطلاعتو مسؤوله (fezeh.hosseini@undp.org)

www.undp.org.af